SHARIAT WEEKLY

شریعت

په اوونی کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتی ارگان

غلورم کال اوه دیرشمه گڼه پرله پسي (۲۲۷) چهارشنبه د۲۰ ۱٤۲۰ هـ ق کال د صفر المظفر (۱۱) د۱۳۷۸هـ ش کال د غبرگولي دمیاشتي(٥) د۱۹۹۹میلادي کال د مي (۲٦)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !.
ممدا (عـدل) ډېر نږدې دی
تقوا(پرهیزگـاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

مشاهدات خویش در کابل را به گوش مردم آلمان خواهیم رسانید

هیات پارلماني المان

هیئت پارلماني آلمان

مشي اسلامي و انساندوستانه امارت اسلامي افغانستان در امر پیاده نمودن نظم و قانون و رعایت حقوق بشر مطابق اساسات دین مبین اسلام در کشور طي ملاقاتي به هیأت الماني تشریح گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : در ملاقاتیکه محترم مولوي جلال الدین شینواري معین وزارت عدلیه در امور څارنوالي با هیأت پارلماني جمهوري فدرال المان در دفتر کارش داشت محترم معین وزارت عدلیه پالیسي اسلامي و صلحجویانه امارت اسلامي افغانستان را در امر پیاده نمودن شریعت اسلامي توأم با نظم و قانون و رعایت حقوق بشر بر مبناي اساسات دین مبین اسلام به آنان تشریح نموده گفت لله الحمد در نظام اسلامي ایکه فعلاً در افغانستان بر قرار میباشد تمام جوانب و ضروریات زنده گي هر انسان مراعات گردیده و حقوق بشر نسبت به هر زمان دیگر در قلمرو امارت اسلامي افغانستان رعایت گردیده است . سپس هیأت پارلماني المان از شنیدن همچو مطالب واقعي ابراز قدرداني نموده اظهار امیدواري نمودند که مشاهدات و شنیدني هاي شان را در کابل که همگام با خواست و آرزوي ملت افغانستان میباشد به گوش مردم المان برسانند.

نماینده گان مؤسسات خیریه وعده همکاري به نیازمندان کشور را تجدید نمودند

نحوه توسعه و گسترش مساعدت هاي مؤسسات خیریه به نیازمندان کشور دیروز طي نشستي مورد بحث و بررسي قرار گرفت

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : در نشستیکه دیروز محترم قاري دین محمد حنیف سرپرست وزارت پلان با شاغلي ایرك دیمول ناظم کمك هاي بشري ملل متحد به افغانستان و نماینده گان مؤسسات پروگرام غذایي جهان سازمان ص ٤

د کابل ولایت د کرنې د ریاست یو تن مسؤول :

د ٤٩٠٦٠ هکتاره ځمکې په ساحه کې غنم، جوار او اوربشې کرل شوي

د تیر کال ټول حاصلات مو د ۳٥٥٥٦۷ ټنو په شاوخوا کې ؤ

د کابل د چاردهي د سیمې د بختیار زراعتي کوپراتیف له بیا فعالیت وروسته په ۱٤۱۹ کال کې د خپلو غړو له لارې لس زره پنځه سوه پنځه ویشت ټنه ډول ډول حاصلات بازار ته وړاندې کړېدي.

دغه ټکې د کابل ولایت د کرنې د اداري یو تن مسؤول د باختر د اطلاعاتي آژانس له خبریال سره په مرکه کې څرگند کړ او زیاته یې کړه د کابل ولایت د کرنې د اداري د منسوبینو د کار او فعالیت له امله د تیر کال په بهیر کې د بختیار د کوپراتیف په بیا فعالیدو سربیره دري سوه څوارلس زره څلور سوه څلویښت څاروي او چرگان د ناروغیو په مقابل کې وقایه او تداوي شویدي او د نهه څلویښت زره شپیته هکتاره ځمکې په ساحه کې غنم او وریشي جوار ډول ډول سابه او غلي داني کرل شویدي چې ټول حاصلات یې دري سوه پنځه پنځوس زره پنځه سوه اوه شپیتو ټنو ته رسیږي

دغه راز د تیر کال په بهیر کې په یو ملیونو دوه سوه شپږ نوي زره نه سوه شپږ پنځوس و نو او د انگورو په تاکونو او د یوزر پنځه سوه پنځه اویا هکتاره ځمکې په ساحه کې چې سابه او غلي داني پکې کرل شوي و درمل شیندل شویدي او د یوزرو یو پنځوس هکتاره ځمکې په ساحه کې د زیانمنو ٤ مخ

منسوبین امنیتي ولسوالي دولت شاه آماده گي شانرا در راه دفع دسایس دشمنان ابراز داشتند

امور امنیتي ولسوالي دولت شاه ولایت لغمان دیروز طي جلسه مورد بررسي قرار گرفت .

آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت لغمان خبر میدهد جلسه تحت ریاست محترم ملا محمد اسحق آخند زاده والي ولایت لغمان قبل از ظهر دیروز در مقر ولسوالي دولت شاه دایر گردیده نخست آیاتي چند از قرآن عظیم الشان قرائت گردیده بعداً محترم مولوي اظهار الله کفیل فرقه و محترم ملا محمد ص ٤

د حبیبیې د عالي مدرسې ټیم د والیبال لوبه وگټله

د کابل ښار د مدرسو د والیبال د پسرلنیو لوبو د تورنمنت په لړ کې چې په دې وروستیو وختو کې پیل شوي وي د حبیبیې د عالي مدرسې د والیبال ټیم د کابل د مرکزي دارالحفاظ د مدرسې د والیبال په ټیم باندې بریالي شو .

دغه راز د والیبال په دویمه لوبه کې چې د غلام حیدرخان مدرسې د والیبال ټیم او د استاد خلیل الله خلیلي مدرسې د والیبال د ټیم په گټه پایته ورسیده . ٤ مخ

در هفته جاري :

سفر هیأت دولتي کشور هاي خارجي به کابل مظهر اطمینان جهانیان از موجودیت آرامش و امنیت در افغانستان است

دشمنان افغانستان هر چند بکوشند موفق نخواهند شد تا جهانیان حقیقت بین را از تحکیم روابط با ا.ا.ا باز دارند

روابط و معاهدات کشور هاي جهان با امارت اسلامي افغانستان حیثیت رسمي و قانوني امارت اسلامي را تائید مینماید

شریعت : هفته جاري شاهد سفر هاي چندین هیئت خارجي به کابل پایتخت کشور عزیز ما بود. خبرنگار دیپلوماتیك ما چنین خبر داد : هیأت حکومتي کشور هاي آلمان، سویتزرلند، فنلیند، و هالند و مسؤول کمك هاي بشري ملل متحد به افغانستان وارد کابل شده و با مقامات ذیصلاح امارت اسلامي افغانستان ملاقاتهاي مفید داشته و در این ضمن کمك هاي کشور هاي شانرا در عرصه بازسازي کشور عزیز ما وعده نمودند.

سفر هیأت مذکور به کابل این حقیقت را تصدیق مینماید که اکنون جهانیان از موجودیت آرامش و امنیت در افغانستان مطمئن بوده و انشاء الله بعد از این تبلیغات زهرآگین دشمنان اسلام و افغانستان که تلاش دارند امارت اسلامي افغانستان را در عرصه سیاسي به انزوا بکشاند و جهانیان را از تحکیم روابط سیاسي، امارت اسلامي افغانستان ص ٤

د کابل ښار په پنځمه ناحیه کې څه د پاسه دري زره پنځه سوه ویالي پاك کاري کیږي

د خوراکي موادو په مقابل د کار پروژې څه د پاسه دري زره پنځه سوه د اوبو ویالي د کابل ښار د پنځمې ناحیې مربوط د سیلو او افشارو په سیمه کې پاکوي ددغو ویالو په پاکولو سره د کرنې څه د پاسه په زرگونو جریبه ځمکه به خړوبه شي په دغه پروژه کې هره ورځ اوه ویشت تنه هیواد وال په کار بوخت دي چې د هر تن لپاره د ورځې پنځه کیلو گرامه غنم د کار په مقابل کې ورکول کیږي . ٤ مخ

ریاست صحت عامه ولایت جوزجان با یك شفاخانه صد بستر و هفت مرکز صحي در خدمت مریضان قرار دارد

شریعت : ریاست صحت عامه ولایت جوزجان هم اکنون با داشتن یك شفاخانه به ظرفیت صد بستریك مرکز حمایه طفل و مادر و هفت مرکز صحي در خدمت مریضان محترم قرار دارد این مطلب را محترم ملا محمد داؤد رئیس صحت عامه ولایت جوزجان طي ارسال گزارشي به هفته نامه شریعت اظهار داشته است محترم رئیس صحت عامه جوزجان در رابطه به فعالیت هاي اداره مربوطه چنین معلومات داده است :

شفاخانه صحت عامه ولایت جوزجان به ظرفیت یکصد بستر که از جمله ۳۰ الي ۳٥ بستر فعال بوده متباقي بستر هاي آن به کمك مقام محترم وزارت صحت عامه در سال جاري فعال میگردد داراي یك کلینیك حمایه طفل مادر آمریت معافیت کتلوي و هفت مرکز صحي در محلات بوده از جمله صحت عامه ولسوالي آقچه ، مرکز صحي قرقین مرکز صحي خماب و مرکز صحي خواجه دوکو فعال گردیده و متباقي ص ٤

کلینیك صحي ولسوالي خوشي ولایت لوگر دو باره اعمار میگردد

کار اعمار مجدد تعمیر کلینیك صحي ولسوالي خوشي ولایت لوگر دیروز طي مراسمي آغاز گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت لوگر خبر میدهد کلینیك مذکور در اثر جنگهاي بي مفهوم رژیم قبلي و کمونستي کاملاً تخریب گردیده بود اخیراً به اثر سعي و تلاش مسؤولین امور و همکاري مؤسسه ان بي یو کار اعمار مجدد آن دو باره آغاز گردید.

با اعمار مجدد کلینیك متذکره مشکلات و پرابلم هاي صحي مردم آن ولسوالي مرفوع میگردد.

در مراسمي که به همین مناسبت در آن ولسوالي تدویر گردیده بود جمع کثیري ص ٤

در کار پروژه تحکیم سواحل دریاي کابل مبلغ ۲۸٤ ملیون افغاني بمصرف رسیده است

شریعت : بخاطر جلوگیري از تخریب کنار هاي دریاي کابل و زیبایي شهر کابل، شاروالي کابل در جریان سال ۱٤۱۹ هـ ق مبلغ ۲۸٤ ملیون افغاني را در کار پروژه تحکیم سواحل دریاي کابل بمصرف رسانیده است یك منبع مسؤول شاروالي کابل به خبرنگار ما در مورد چنین معلومات ارائه داشتند : کار تحکیم ص ٤

کار اعمار یك باب مدرسه دیني در مربوطات شهر شبرغان پایان پذیرفت

یك باب مدرسه دیني در ساحه هشت جریب زمین اخیراً در مربوطات ولایت جوزجان اعمار و مورد استفاده طالب العلمان قرار گرفت .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : جایداد مدرسه متذکره که موازي ص ٤

طي سال گذشته چهل و یك نفر از انستیتوت پیداگوژي کابل فارغ گردیده اند

شریعت : در انستیتوت پیداگوژي کابل به تعداد ۱۲۰ تن استادان ذکور و اناث که داراي تحصیلات عالي دوکتورا ، ماستر و لیسانس بوده و از رتب علمي پوهیالي الي پوهنوال برخوردار بوده که نود فیصد استادان ذکور مصروف تدریس هستند و تعداد محصلین که مصروف فراگیري تحصیل اند مجموعاً به ۲۲۰ تن میرسند در سال گذشته به تعداد ٤۱ تن از رشته هاي مختلف به اخذ دیپلوم لیسانس فارغ گردیده و غرض تربیه سالم اولاد وطن به جامعه تقدیم ص ٤

هوهیواد چې په افغانستان کې د لاسوهنې جرأت کوي باید د انگریزانو او روسانو سرنوشت په نظر کې ولري

د فاریاب والي محترم سید جانان آغا

شریعت : قدرمنو لوستونکو! د فاریاب په ولایت کې د شریعت اوونیزې خبریال د هغه ولایت د پوځي حالاتو په هکله د فاریاب له والي محترم سید جانان آغا سره یوه مصاحبه کړېده چې دا دي لنډیز او مهم ټکي یې ستاسي درانه حضور ته وړاندې کوو .

لس میاشتي مخ کې چې په الهي نصرت او اسلامي امارت د اتل اردو د مجاهدینو په سر ښندنه د فاریاب ولایت فتح او د اسلامي امارت سپین بیرغ په دې ولایت کې په رپیدو شو د خداي«ج» په نصرت هلته صلح او امنیت ټینگ دي او د مفسدو ملیشو ټغر کاملاً ټول شوي دي.

موږ له امنیتي لحاظه کوم مشکلات نه لرو او په دې ولایت کې د اسلامي امارت ارگانونه د بیا رغونې په چارو بوخت دي د افغانستان اسلامي امارت په ٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

دانشمندان کشور باید رسالت شانرا عالمانه انجام دهند

بعد از گذشت سالهاي پرخم و پیچ تجاوزات بیگانگان بر حریم مقدس کشور عزیز ما افغانستان و مجاهدت هاي حیرت آفرین ملت مجاهد افغان، اکنون افغانستان اسلامي از دیدگاه سیاسي در یك مرحله خیلي حساس و سرنوشت ساز قرار دارد الحمد لله به نصرت الهي و فداکاریهاي دلیرمردان مجاهد کشور جلو تجاوزات مستقیم اجنبیان گرفته شده، استقلال، حاکمیت ملي و تمامیت ارضي کشور تضمین گردیده و مملکت در راه اعمار مجدد و انکشاف و پیشرفت در عرصه هاي مختلف حیات قرار دارد، با آنکه مداخلات اجنبیان دست درازي هاي دشمنان تاریخي افغانستان به نحوي از انحاء هنوز نیز فعال به نظر ص ۲

اطلاعیه کمیسیون عالي مبارزه علیه مواد مخدر

قرار است بمناسبت روز جهاني مبارزه علیه مواد مخدر که بتاریخ ۱۲ ربیع الاول مطابق ۲٦ جنون ۱۹۹۹ مصادف است با کانگور پوستري مبین اضرار و پیامد هاي ناگوار مواد مخدر راه اندازي گرد.

بناً از تمام نقاشان رسامان و علاقمندان تقاضا بعمل مي آید تا آثار هنري شانرا بشکل ذیل تهیه و ترتیب نماید.

پوستر ها به سایز ٥۰ در ۷۰ سانتي متر باشد .

پوستر ها روي کاغذ کاك ترسیم گردد

پوستر ها طور رنگه یا پوستر کلر کار شود .

پوستر بدون تصویر ذیروح ، سمبولیك باشد و الي تاریخ ۲ ربیع الاول مطابق ۱٥ جون که آخرین روز پذیرش تعیین گردیده به ریاست نشرات کمیسیون عالي امارتي مبارزه علیه مواد مخدر واقع تعمیر ص ٤

د ننگرهار د ناوې د پراختیا پروژې په ننگرهار کې د اوبو لگولو زیاتې ستونزې حل کړېدي

شریعت : د ننگرهار د ناوې د پراختیا پروژې په ۱٤۱۹ هـ ق کال کې د پروژې په گټه د بین المللي موسساتو سره څنې قرار دادونه چې د کانال د پاره د خاص اقتصادي اهمیت لرونکي دي لاسلیك کړي او د اوبو لگولو په برخه کې یې زیاتې آسانتیاوې برابرې کړېدي چې په لاندې ډول ور څخه یادونه کیږي :

۱- د عمومي کانال د کنترولي دروازو او د هغې د گیریکسونو پروژه چې د لږې وال نشه یې موادو د کنټرول اداري سره لاسلیك شوي وه په تیر کال کې یې کارونه پاي ته رسیدلي چې ددې پروژې په ختمیدو سره د کانال په مسیر کې تر ۲۸ ویالي پورې د اوبو کنټرول او ویش د حقابې مطابق ٤ مخ

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوي گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
په پیښور کي : دطالبانو نمایندگی تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

بقیه سرمقاله

میرسد و امارت اسلامي افغانستان منحیث ممثل واقعي آرمانهاي ملت مسلمان ما با قرباني هزاران تن از جوانان پاك طینت خویش حریم سیاسي عقیدوي و جغرافیایي کشور را از خطرات موجود در امان ساخته است بر کافه ملت مجاهد ما خصوصاً بر دانشمندان کشور است تا در پرتو علم و دانش شان حساسیت هاي زمان و نیازمندیهاي عیني و اساسي جامعه خویش را درك نموده و مسؤولیت هاي خویش را نادیده نگیرند، دانشمندان به مشابه شرائین بزرگ وجود کشور عزیز ما بوده به اندازه اي که صاحبان احترام و اهمیت اند هماتقدر مسؤولیت هاي خطیري نیز در قبال دارند که باید با حکمت سرشار و اخلاص بي مثال رسالت هاي شانرا عالمانه انجام داده و کشور آبایي خویش را بسوي فلاح و سعادت سوق دهند، خیلي نا امید کننده است مواقف و اظهارات بعضي از دانشمندان محترم کشور ما که در جریان مصائب و فلاکت هاي ملت و تجاوزات بیگانگان دیار غرب را ترجیح داده و مصروف خوشگذراني خویش بودند و اکنون بدون احساس کدام مسؤولیت در خیال تصاحب رایگان میراث کم و بیش دو ملیون افغان شهید، به تگ و دو آغاز نموده اند . آقاي عبدالستار «سیرت» سابق وزیر عدلیه و فعلاً سخنگوي محمد ظاهر شاه پادشاه مخلوع که در عرصه علم و دانش خود را یکه تاز شمرده و در میدان سیاست نیز به کسي تن در نمیدهد اخیراً لب به مصاحبه کشوده که خیلي تعجب آور است و از احاطه علم و دانش بیرون آقاي سیرت در رابطه به لویه جرگه پادشاه سابق طي مصاحبه اي با رادیو مشهد اظهار داشته که شاه سابق هفت سال قبل نیز این نیت را داشت !! و جاي دیگر علاوه مینماید قضیه افغانستان باید از طریق سهمگیري کافه ملت و احترام به اراده مردم افغانستان حل گردد، گرچه محترم «سیرت» صاحب اظهاراتي دیگري نیز نموده که قابل غور نبوده صرف همین دو مطلب ایجاب اندکي تعمق را مینماید تا ملت مجاهد ما دریابد که آیا دانشمندان ما آنهائیکه نام ها و دیپلوم هاي پر آوازه دارند واقعاً صلاحیت حل مشکلات کشور را دارند ؟ آیا پیشنهادات شان با حقایق و خواسته هاي ملت پهلو مي زند و آیا آنها بنا بر احساس وطندوستي و دلسوزي بالاي ملت خویش مصروف کار و بار سیاسي گشته اند و یا در نتیجه هدایات و بمنظور تطبیق پلان هاي دیگران ؟!!

اعلیحضرت ظاهر شاه که بنا بر گفته سیرت صاحب هفت سال قبل خیال انعقاد لویه جرگه را داشت و اکنون آنرا در صحنه عمل پیاده مینماید، به کدام منطق و دلیل حکم شده میتواند که موصوف اهلیت حل مشکلات کشور را دارد در حالیکه فاصله میان نیت و عمل اعلیحضرت هفت سال باشد چگونه میتوان به پروگرام هاي پادشاه سابق چشم امید داشت و یا به آن حساب نمود از فاصله زماني نیت و عمل ظاهر شاه هویدا میگردد که بین مجلس تنظیم کننده گان به اصطلاح لویه جرگه و انعقاد لویه جرگه اضطراري شاه مخلوع نیز هفت سال دیگر ضرور بوده و متعاقباً میان لویه جرگه اضطراري و لویه جرگه استقرار شاه نیز هفت سال خواهد گذشت که بدینترتیب چهارده سال دیگر ضرور خواهد بود تا شاه سابق به خیال خودش نظام مطابق خواست کافه مردم تشکیل دهد و ملت بیچاره ما که بیست سال جور مظالم کمونیزم و ایادي شانرا کشیده باید چهارده سال دیگر انتظار بکشد تا اعلیحضرت به داد شان برسد ؟!! افسوس به حال چنین دانشمندان و سیاستمداران که در خدمت کشور خویش اینقدر اخلاص نشان میدهند و باز افتخار کنان مردم را به حمایت از چنین طرح دعوت مي کنند اینکه آقاي سیرت ادعاي احترام به اراده ملت و خواست مردم را مینماید باید جواب بگوید که اراده کدام ملت را احترام مي گذارند اگر مطلب شان ملت مجاهد افغان است پس با توجه به موقف ملت مجاهد ما که با سرو مال از امارت اسلامي افغانستان دفاع و حمایت نموده هزاران تن علماي جید این ملت عالیقدر امیر المؤمنین را بصفت زعیم و امیر خویش انتخاب نموده و بر خلاف تمام مداخلات و نقشه هاي اجانب مصروف جهاد في سبیل الله اند، آقاي سیرت و اعلیحضرت باید از فریاد هاي بي نتیجه به اصطلاح لویه جرگه که بصورت غیر مستقیم بغاوت از امارت اسلامي شمرده شده و خلاف خواسته هاي ملت مسلمان ماست دست کشیده و اراده ملت را که خواهان یك افغانستان اسلامي، مستقل و شگوفان تحت رهبري عالمانه عالیقدر امیر المؤمنین است احترام گذاشته و خط سیر علماي کشور خویش را تعقیب نمایند تا همه با هم بدون ضیاع وقت کشور محبوب خویش را بسوي جاده هاي انکشاف و ترقي سوق داده و ملت مجاهد خویش را مالکان زندگي سعادتمند سازند در غیر آن هیچ نقشي بر سر آب پایدار نمي ماند !!

افغانستان در عرصه رقابت قدرتها

غفور احمد «غزنوي»

بعد از جنگ جهاني دوم (۱۹۳۹-۱۹٤۵) جهان درگیر دو ابر قدرت گذاشته شد به این مفهوم که کشور هاي جهان سوم ضرور به یکي ازین دو قطب متضاد ملحق در غیر آن موجودیت او در خطر واقع بود از جانب دیگر این دو مدعیان وراثت جهان در اکثر نقاط در عرصه رقابت نیرو و تسلیحات نظامي، اقتصادي، تبلیغاتي پخش و گسترش فرهنگ و ایدیالوژي بین هم افتادند که مبارزه مذکور در اوراق تاریخ بنام جنگ سرد ثبت گردید. ولي سیاست دانان قرن ما بیست و هفت جون سال نزده صدو-پنجاه و سه را که قرار داد متارکه بین ایالات متحده امریکا و اتحاد شوروي سابق امضاً و در نتیجه کوریا به دو کشور تحت عناوین جمهوري دموکراتیك کوریا در بلاك شوروي و جمهوري کوریا در بلاك غرب قرار گرفت آغاز جنگ سرد محسوب نموده اند که این مبارزه بیشتر از دو دهه دوام نمود و گفته میتوانیم که از همینجا اولویت امریکا در اوقیانوس مسلم گردید جریان مبارزه و رقابت این دو قطب که در اکثر مناطق دوام داشت ضرورت به تفصیلات بیشتر دارد که از آن صرف نظر مینمائیم ولي اگر نظر سریع به قضیه اندازیم به این نتیجه واصل میگردیدم که غرب در عرصه سیاست خود با ملایمت و خون سردي قدم مي نهاد ولي در مقابل شوروي اسبق به شدت و بدون سنجش عواقب امور خطیر پایه عمل میگذاشت به طور مثال طي مدت دو دهه در جریان جنگ سرد اتحاد شوروي سابق یکصدو پنج فیصله سازمان ملل متحد را به نفع خود ویتو نموده و در مقابل امریکا صرف پنج فیصله سازمان مذکور را ویتو نموده از سوي دیگر مخترعین مفکوره کمونیزم که در روسیه به تحکیم مواضع سیاسي شان پرداختن و با انفاذ قانون اساسي ۱۹۱۸ توانستند حاکمیت کمونیستي را بسط و توسعه دهند اقلیت کوچکي از مردم بیش نبودند فقط بواسطه زور و اختناق خود را در رأس امور نگهداشتند و اردویي بنام قشون سرخ تشکیل دادند از این خود بر میآید که فرهنگ و ایدیالوژي پوچ کمونیستي دلنشین حتي در روسیه هم نبود چي رسد در نقاط دیگر جهان به هر صورت یکي از نقاطیکه محل رقابت و نبرد این دو به اصطلاح ابر قدرت جهان قرار گرفت مناطق آسیا پسفیك بشمار میرود بالخصوص افغانستان که موقعیت و نقش مهمي را در آسیا پسفیك دارا میباشد و زیادت اهمیت این منطقه در آن بود که یکي از این دو ابر قدرت (اتحاد شوروي) به شکست مواجه شده و آن دیگري (غرب) بگونه اي یکه تاز در سیاست جهان تبارز نمود و لي به جرأت گفته میتوانیم که جهاد ملت غیور و خدا پرست افغانستان بود که دشمن بزرگ اسلام و رقیب سر سخت غرب (اتحاد شوروي سابق) را از پا در آورد و گلیم پلید کمونیزم را از آسیا و کشور خود افغانستان بر چید و آن ابر قدرت را که خیال سلطه سرتاسر جهان راد ر سر داشت چنان به ذلت مواجه ساخت که تا حال هم هوش به سرش عودت ننموده است . ولي موفقیت غرب در آن بود که از جهاد مقدس افغانها استفاده نمود لذا با فرق و احزاب مختلف جهاد کمکهاي تسلیحات نظامي و اقتصادي را به عهده گرفت و آنرا وقتي شدت بخشید که رهبري شوروي و پیروي حزب کمونست آنکشور تصمیمي مبني بر اعزام قواي نظامي را به افغانستان صادر نمود و به تاریخ بیست و پنجم دسامبر ۱۹۷۹ م مطابق به ۱۳۵۸ هـ ش ساعت سه بعد از ظهر کندك مستقل کشف فرقه ۱۰۸ معترضه از سرحد مشترك افغانستان به قصد رسیدن به آب هاي گرم عبور نمود همزمان طیارات ترانسپورتي قواي هوایي شوروي وسایل پرسونل فرقه ۱۰۳ دیسانت را به افغانستان پیاده نمود و به این ترتیب یك کشور آزاد و مستقل مورد تجاوز یك ابر قدرت جهان قرار گرفت و در مقابل به استعانت خداوندي ساکنین این مرز بوم و جانب خود را که عبارت از دفاع از وطن و جهاد در راه اعلاي کلمة الله است به انجام رسانیده و ضربات مهلك را به دشمن وارد نمودند که منتج به پیروزي و استقلال کشور گردید. ولي چونکه بعد از فروپاشي اتحاد شوروي وجود اسلام خود درد سر براي غرب محسوب میگردید لذا امریکا کمك و تمایل دوستي خود را با ملت افغان تا زماني دوام داد که بلاك شرق را منهدم ساخت نمیخواست در افغانستان صلح بر قرار و یك حکومت مستحکم اسلامي عرض وجود نماید گرچه طرف دار و خواهان حکومتي بود که تحت تأثیر و نفوذ غرب باشد ولي افغانها در طول تاریخ ثابت نموده اند که آنها مرگ را بر زندگي تحت سلطه غیر ترجیح داده اند پس غرب موافق به وجود تشنج در منطقه بود، و این مثال مؤید قول ما است که در موافقتنامه ژنو در ۱٤ اپریل ۱۹۸۸ م بین دولت افغانستان و پاکستان که به حمایت شوروي و امریکا صورت گرفت و قرار بود طي آن ارتش سرخ شوروي متجاوز از افغانستان خارج شود نماینده مجاهدین افغان که نماینده قانوني مردم افغانستان بود حضورنداشت و در نتیجه باعث ایجاد پرابلم هاي بعدي گردید ولي چونکه خداوند متعال خود وعده حفاظت دین و قانون خود نموده لذا قشر منور و پاکسرشت کشور ما را که عبارت از طلاب مدارس میباشد مزید توفیق بخشید تا براي اعلاء و احیاي کلمة الله و حفظ استقلال قیام نموده و به موفقیتهاي قابل ملاحظه نایل آمدند و عنقریب همه آرمانهاي شهداي کشور ما بر آورده شود.

ان شاء الله تعالي .

ته او خدای نو په ممدغه قواره !!!

محمد نعمان «دوست»

تاسو چي د خپلي پوهي ساري په نړي کي نه وینې تاسو چي خپله خاوره د فرهنگ او تمدن زانگو گڼي. داسي زانگو چي کله کله په کي پردي نابغه گان لکه سید جمال الدین افغاني هم په زوره زنگوي تاسو چي خپل تاریخ له گردي نړۍ څخه زوړ او مستند گڼي او تاسو چي ...

اخر له دومره سترو دعوو سره، سره ولي داسي د (...) کارونه کوي ؟ له خپل زاړه او پاخه تاریخه ولي دومره نا خبریاست؟ خیر دي اوس هم سر وخت دي ډیر وخت مو نه نیسم راځي چي په گډه د ۱۷م پیړي د لومړي لسیزي څخه را په دیخوا څو مهمي پیښې په گډه ولولو :

په یاد مو دي کله چي په ۱۷۱۰ ع کال کي د هرات د والي محمد خان تر قومندي ۱۰۰۰۰ په وسله سمبال عسکرو په کندهار برید وکړ . زمونږ ستر نیکه حاجي میرویس خان ستاسو په نیمایي تعداد پنځه زره افغانانو د ډیرو کمو وسایطو په لرلو سره څنگه شرمونکي ماته ورکړه په زرگونو مو تر خاورو لاندي شول او پاتو د تیښتي لارغوره کړه .

لا کال پوره نه و چي بیا مو سترگي سپیني کړي او په ۱۷۱۱م کي د گرگین دواړه خسرو خان گرگین په مشري له دیرش زره وسله وال پوځ سره راوخوځید زمونږ غازي نیکه بیا توره، چي لا پري د صفوي ویني خاپونه پراته و له تیکي را وویسته او له ۱٦۰۰۰ سر تیرو افغانانو سره د جنگ ډگر ته ووت. ستاسو دومره لوي لښکر نه بواځي څو سوو کسانو په تیښته ځانونه له مرگه وژغورل. بیا هم ونه شرمیدي او له کرمان نه مو په ۱۷۱۳ ع کي د محمد زمان په مشري د کندهار په لور خپل سپیره گامونه راپورته کړل خو چا د مې ته هم پرینښودي او په لاره کي تري تم شوي تاسو بیا هم هغه متل چي :زه نه شرمیږم ما به څوك وشرموي عملي کړ . او د خوزستان د والي عبدالله خان په مشري له پنځوس زره عسکرو او ۲٤ غټو توپونو سره په پوره غرور راوخوځیدي خو پوهیږي ؟ څه وشول؟ هو ستاسو نیمایي پوځ په ځمکه راولیود او خولي بي له خاورو ډکي شوي.

څنگه مو لاري دریاندي وتړلي ؟ اته میاشتي مو دریاندي څنگه په ولړه او ویره کي تیري کړي؟ او چي ډیر ناچاره شوي نو پوهیږي ؟ ستاسو نیکه شاه حسین صفوي چي زمونږ له ځوان تږلواك شاه محمود هوتك له عمر څخه بي پنځه کاله شاهي تجربه هم زیاته وه په ۱۷۲۲ م کي خپري سترگي له خپلو درباریانو سره راټي او زمونږ ۲۵ کلن اتل ته سلامي شو زمونږ ولس مشر د ځواني له جوش او هر ډول توان سره سره بیا هم خپل افغاني جوهر حوصله ښښنه له لاسه ورنکړه په ډیر درنښت ور جگ شو ځان سره بي په یوه تخت کیناوه اوله ډیر احترامه بي ورته د خبرو په منځ کي د پلار خطاب وکړ . خپلي باتوري سترگي د هغه تیتو سترگو ته واړولي او په حکیمانه توگه بي وویل : « دنیا شان او شوکت جاه او جلال دغه شان بي وفا دي خداي هر چاته چي وغواړي ورکوي بي او هر چانه بي چي وغواړي اخلي بي او ددي لپاره چي هغه دارام ساه واخلي او زړه بي له ویري ونه چوي په نرمه لهجه بي ور زیاته کړه : « زه تاته ډاډ درکوم چي پرته د ستا له مشوري به کار نه کوم » هغه د سلطنت خول له خپل صفوي، سر سره مناسب ونه گاڼه له خپل سر نه بي په ریږدیدلو لاسونو را کوز کړ او د زلمي افغان په سر بي کیښود. هغه هم هغوي ټولو ته ښه کافي معاش مقرر کړ . او خپله پلازمینه بي ستاسو نني اصفهان وټاکه څنگه سر مو خلاص شو! ؟ هو! تاسو به دا فکر کوي چي شل کلن ناورین دوي له هر ډول توان نه غورځولي خو اشتباه مو کړي ځکه مونږ هغه وخت هم په وسلو تکیه نه ده کړي اوس بي هم نه کوو مونږ هغه وخت هم په خپل خداي توکل و او د سپیڅلو جذبو په زور جنگیدلو او اوس هم مونږ هر دښمن ته په پوره جرئت خبر ورکوو چي :

ټیټ مي مه بوله غورځنگ را باندي مکړه!
زه په دي افتادگي کي لوي گړنگ یم

خیر دي هر څه چي کوي کوي بي اختیار لري خو یو ځل د تاریخ په هندارو کي خپل مخونه په ځیر سره وگوري او بیا ریښتیا ووایي : ته او خداي نو په همدغه قواره !!!

د ننگرهار د ناوي د پراختیا پروژي ...

صورت نیسي.

۲- د شرقي کانال په برخه کي د سرخ دیوال د تونل د شرقي برخي څخه بیا د باریکاب تر پله پوري چي ۵.۲ کیلو متره اوږدوالي لري د کانال پاکي پروژه چي د نړیوال نشه بي موادو د کنترول اداري سره لاسلیك شوي وه او پاکول بي د پروژي لپاره خاص اقتصادي اهمیت درلود په ۱٤۱۹ کال کي پاي ته رسیدلي ده .

۳- د ابیاري د تنظیم پروژه چي د پورته ذکر شوي اداري سره بي په ۱٤۱۹ کال کي قرار داد لاسلیك شوي ځني کارونه بي انجام او پاته کارونه بي په روان جاري کال کي هم دوام لري ددي پروژي په سرته رسیدو سره به د کانال په اوږدو کي ټول لیدرو تخنیکي تاسیسات فعال او په منظم ډول به په کار او فعالیت شروع وکړي .

٤- په ۱٤۱۹ کال کي د ننگرهار د ناوي د پراختیا پروژي د غنمو د اصلاح شوي تخم د تکثیر په خاطر چي مالي لگښت بي د نړیوالي اداري ایف اي او لخوا تمویلیږي په ۱۰۰ هکتاره ځمکه کي د غنمو کښت کړي او د روان جاري کال په نږدي اینده کي به د هغي څخه انشاء الله د قناعت وړ حاصل تر لاسه کړي .

۵- پروژي د خپل اقتصادي او مسلکي اهمیت او حیثیت په خاطر د نړیوال نشه بي موادو د کنترول اداري سره د ننگرهار ولایت د شینو ارو ولسوالي مربوط د یوي قوریي د جوړولو قرار داد په ۱٤۱۹ کال کي لاسلیك کړي په هماغه وخت کي بي په کار او فعالیت شروع کړي او د پروژي کار په ۱٤۲۰ کال کي هم جریان لري.

ځرنګه ښکلاوي ليکو؟؟؟

داکتر ښادمن

سوري

اغـزيو کـه دي وخـتـه پر ګلزار خـور کـړي سـوري
ښو پر انتګيـو هم د ډار خـور کـړي سـوري
دا سـتـا د غـاړي هار چي د ترنګ له ځـپـو پيـيـي
پردي مـو امـو سـينده ملکيار خـور کـړي سـوري
دا سـر چي د ښـايست د ګل سندري راټوکـيـږي
د زړه د ويښو رنګ مـو په بهـار خـور کـړي سـوري
را تاوي بي پامـيـر له غـاړي وريځي د تکبـيـر کـړي
د عشق د مـزار دښتـه کي دي هار خور کـړي سـوري
دا نن چي دي له ورو ځـونـه د خـال رڼا زړګي وړي
طالب دي له مـحـرابـه په ټول ښـار خـور کـړي سـوري
سـتـا مـينه مي د زړه پر صـبـر وروځ شـوله،را تاوه
پګړي کـه د روضي په دنګ منار خـور کـړي سـوري

د ارواښاد سمندر خان «سمندر» په وينا :

تن رباب او سامي تار دي = ترنګيدل مي مدام کار دي
بل شليدلي هر يو تار دي = بس يو تار دي تر نګهار دي

بوازي روحي ارامي له ښکلايزي ليکني ځخه مقصد نه ده بلکه لوړ بشري صفات لکه د دين او د وطن پالني مينه، احساسات، عواطف، مروت او نور اخلاقي خوبونه ټول د ښکلايزو ليکنو په مرسته حاصليږي او اصلي عناصر او اساسي اجزا يي د معنويت پر لحاظ دا دي :

عـاطفه، احسـاس، لوړ خيـال او نوي پيـغام ددي دپاره چي په ښکلا ييزه ليکنه کي کامل مهارت پيدا کړو ښايي چي ددي طريقي د علماؤ آثار او تاليفات په خورا دقت مطالعه کړو او د رسول اکرم «ص» و دي حديث شريف ته ځانونه نږدي کړو چي فرمايلي يي دي : ځني ويناوي د سحر اغيزه لري او ځني شعرونه د حکمت حکم لري ، تر څو د ښکلايزو وينا و او ليکنو په مرسته د خلکو په زړونو عادلانه حکومت وکړو .

اوس همدومره

انوار عشق

مير ظهور الدين «شهير»

اي عشق پر از انوار، اندر دل من جا کن
اي بحر در و ګوهر، بيچاره شدم يکسر
فرياد همي دارم، کاين ګرد و غبار غم
در سوز و ګدازم کن، اي روزي برق آسا
اي روشني دلها، اي صبح اميد ما
در وقت سجود از خود، بيرون نروم در تو

جان و دل غمګينم، از رنج مبـرا کن
يا اين دل محزونم، يک لحظه ميدا کن
از دل بزدا يکدم، دلخانه مصـفـا کن
معشوق به عاشق ده، از غير مجزا کن
چشم دل تاريکم، از لطف تو بينا کن
دل کسره تزوير است، اين صحنه تماشا کن

آ عشق شهيرم کن، با خويش مشيرم کن
غمهـا بزدا از دل، وين عيش مهيـا کن

د شعر او ادب

د کوه طور څوب

عبدالله «بيکار»

[illegible] زمـا سـر زمـا سـرور لوټوي
[illegible] له زړو سـتـر ګـو ته، نور لوټوي
[illegible] خـان پسي را کـاږي په بدرنګو لارو
[illegible] د حـسـن الظهـور لوټوي
[illegible] د خـداي د مـيني وايم
[illegible] بانيونـه د زبور لـوټوي
[illegible] د خداي له خوارو سـوري شري
[illegible] مي څـوب د کـوه طور لوټوي
[illegible] د ارتـقـا د ښـمـان
[illegible] شـعـور لوټوي
[illegible] زندګي [illegible] مي اينبي په سـر
[illegible] ښکلي غـرور لوټوي
[illegible] کي د کـمـزورو ځـه دي !!
[illegible] مي [illegible] لوټوي

کابل پوهنتون ١٣٧٨/٢/٣

ذوق

عبدالرسول آرزو

هنوز ناله، زاري کـه داشـتم دارم
خـيـال عـشق نګاري کـه داشـتم دارم
هزار خم نکنند مـسـت خـاطر زارم
بسـر چو درد خـمـاري کـه داشـتم دارم
نګشت سـرمـه تو اي سکوت آوايم
حـسـان تو اي هزاري کـه داشـتم دارم
اګر چه خـاک شـده استخوان به ترګه او
هنوز مـشـت غـبـاري کـه داشـتم دارم
نګشت جـان ز در يار اي رقـيـب جـدا
به دل مـحـبت ياري کـه داشـتم دارم
به ترشـداروي تو، به نګشت زخم دلم
طـبـيـب قلب نګاري کـه داشـتم دارم
به ترد عـشق زدم عـقل و آرزو و امـيـد
هنوز ذوق نګاري کـه داشـتم دارم

ملت من

((ليلا))

اين ملت منست که دستان خويشرا
بر ګرد آفتاب کمربند کرده است
اين مشت هاي اوست که مي ګويد از يقين
دروازه هاي بسته ترديد قرن را
ايمان بياوريد
تنها ترين پيامبر
اينک ملتم

اين ملت من است که تکرار ميشود
با نام انسان
با واژه عشق
اين اوست
اوست

اوست که شيپور هاش را
شيپور هاي فتح‌پيا م آشناش را
آورده در صدا
بيدار مي کند
هشدار مي دهد

د افغاني ښځو د بشري حقوقو په هکله د غربي [illegible]

دکتور رس نګار

زموږ ګران هيواد افغانستان د پيـړيو په اوږدوکي د راز راز برغلګرو د کشمکش او يو د بل اړخ ته د ورتيريدلو د يوي مهمي شاهراه حيثيت درلود او لري يي . يوي خواته د اسلامي ملکونو او هندوستان د لوپي وچي طبيعي شـتـمني او بشـري زيرمي او بل خواته د غرب او روس اقتصادي سياسي او نظامي مقصدونه ددي هيوادونو د اقتصادي، علمي او تخنيکي ريزرفونو سره پراته دي. ددي کـشـمکش په منځ کي يو وړوکي غرني هيواد افغانستان دي چي د خپلي عـقـيـدي او سياسي خپلواکي نه د دفاع يو زرين تاريخ او ولس يي د خـپل دغه ځلانده تاريخ وياړ لري .

د افغاني ټولني هر معنوي ارزښت او پديده او لدي جملي نه د ښځو اسلامي ماهيت دي هيواد ته د اسلام د مبارک دين او بر حق اواز د رارسيدلو او خپريدني سره کلک او نه شليدونکي پيوند لري . د اسـلام دين او د پاک قـرآن بواځني سمي او حـقـيـقي لارښووني زموږ هيواد او اولس ته داسي فضيلت او امتياز ور په برخه کړي چي د تاريخ په اوږدو کي يي هر زور اور او طاقـتـور شيطاني حرکت ته نابود کوونکي او شرمناک سرنوشت ورپه برخه کـړيدي. نو ځکه دا د هر اصـيـل افغان او مسلمان فرض دي چي د اسلام په حقانيت، د پاک قرآن په حقيقت او د الله«ج» په وحدانيت او عظمت باندي ژور او د زړه د اخلاصه ايمان او تکيه ولري. دا زموږ حق دي او د ټولو دنياوالو ته غواړو چي دوي زموږ ددغه حق پاملرنه رعايت او احترام وکړي ځکه چي زموږ دا حق يا عقيده د هيڅا په ضرر نه بلکه د ټول بشريت او حتي د جمله ژونديو موجوداتو او کائناتو د نظام دپاره خير، فلاح او ګټه پکي شته دي.

د اسـلام د پاک دين پـرروي او دحـقيقت نه يي ددفـاع په لاره کي قـرباني زمـوږ د ملک او ولس د ژوندانه، بقا او مـوجوديت سره نه بيليـدونکي اړيکه لري. دا رابطه ولي دومره محکمه ده ؟ ولي موږ ته دا ميراث دومره مقدس او ضروري دي ؟ دا مـوضـوعـات ډيرو ژورو بحثونو او تحقيقاتو ته ضرورت لري. خو دومره ويل به کافي وي چي الله«ج» قـادر ذات دي، د اسـلام د حفاظت وسايل پخپله هماغه واحد او لا شريک ذات برابر وي موږ صرف يوه ډيره عاجزه او کمزوري وسيله يو چي حتي ددي فخر ګټلو لياقت هم نلرو ... پدي ترتيب خپل بحث دي سوال ته را لنډوو چي : په يوه حقلند نظر د افغاني ښځو معاصر اسلامي ماهيت څه دي، او غربيان ددي سپيڅلي ماهيت په نوم څه مقصدلري ؟!

که د افغاني ښځو معاصر نقش ته د ١٩ ميلادي پيړي په اخرو او د ٢٠ پيـړي په اوږدوکي وګورو نو وينو چي د هغوي نقش لمړي د برطانوي يا په اصطلاح غـربي استعمار او په وروستي وختونو کي د شوروي امپراطوري يعني شرقي استعمار د مستقيمي او غير مستقيمي قبضي او تسلط نه د خلاصـون په لاره کي د ملت د ازادي بښونکي جهاد او د هيواد د آبادي په کـار کي د ښځـو د برخي اخستنتي د ضـرورت او ځـرتګوالي سـره ارتبـاط لري د يادولو خبـره دا ده چي غرب او شرق استعماري طاقتونو زموږ د ملت په تاريخي جهاد او د عمران په کار کي د اقتصادي او عيني مجبوريتونو او علمي تخنيکي نيمګړتيا وو نه په سؤ استفاده کولو سره هميشه خپل باطل عقيده وي او فکري آثرات زموږ د ملت په تکاملي او ترقياتي مسير باندي تحميل کړي چي ددي جملي نه ښـڅـيـنه ټولني هم په اصطلاح چپ او راست انحرافي حرکتونه او تګ لاري اختيار کړيدي.

چپي مفکورري انحراف د ملي او بين المللي شرايطو د سازګاري نه په استفاده زياته وده وکړه، آن تر دي چي د خلق، پرچم او شعلي په نوم د کمونستي قرار ګاوو يعني مسکو او پکنګ په استخباراتو پوري تړلي سازمانونو د افغاني «روشنفکره» ښځو زياته شمیره د خپلو سازمانونو په چوکاټ کي تنظيم کړي . پدي ترتيب چپ انحراف د انساني «مدرن تعليم يافته» ښځو يوه لويه شميره په ځان پسي د کمونستي بت پرستي او الحاد پولو ته ورسوله د کمونستي او ماترياليستي تحليل او فلسفي اقتصادي نظرياتو له مخي يي د ښځو د حقوقو د دفاع موضوع په طبقاتي مبارزه پوري مربوطه کړه . د ښځو د ټولني دا برخه يي لدي چي د خپل هيواد د اسلامي او ملي هويت خيال وساتي د شوروي په نوم د ٢٠ پيړي د وروستي امپراطوري د پراختيا شوبښتي، الحاد او کمونستي بت پرستي د غيږ ته د خپل دين او هيواد په وړاندي د مقابلي ډګر ته راوويستي. دي منظمو سازماني يا غير منظمو انحرافي جرياناتو وطن ته څه راوړل ؟ د استثمار لاندي ولس او محرومو طبقاتو ته يي کوم سرنوشت ور په برخه کړ؟

او ښځو ته يي کوم سقوطه وګټل !!!! دا توضيحات به زموږ د بحث موضوع ډيره اوږده کړي

[illegible] په لنډ عبارت سره وايو [illegible] د چيرته عنوان اسنه چي [illegible] بيان اسنه .

[illegible] دا سوال ضرور د [illegible] چي پخپله د [illegible] مثال [illegible] او ولي يي د [illegible] شوروي امپراطوري د خپلي باطلي [illegible] سره د زوال کندي ته [illegible] او په تيره ګيډه شوا ، د چپ انحـراف [illegible] او [illegible] چه [illegible] او [illegible] وسايل په خپلو [illegible] کول، په [illegible] سره د خپل [illegible] د [illegible] او [illegible] پرستي [illegible] او [illegible].

په اوسني وخت کي چي د غرب او امريکا د کمونستي خطر [illegible] ډلي او شيطاني [illegible] کار [illegible] روزګار يي د طبقاتي شعار د تعرو ته يي [illegible] د اسلام د [illegible] مسئله [illegible] سوال ګرځيدلي دي، اوس د اسلام او

[illegible] افغانـسـتان د ازادي غربي [illegible] د اسلامي تحريک او [illegible] نهضت د مخنيوي د پاره د حقوق بشر او انساني همدردي په [illegible] هلي ځلي او نعري سر کړيدي ددي تلاش او نعرو په سر کي د اسلامي هيـوادونو د قـدرتي زيرمـو او بشـري امکاناتو لوي مدعي او خريدار يعني امريکا تر ټولو زيات رول لري. امريکا چي اوس ځان د جهاني نوي نظم يي رقيبه واکدار او ذمه وار ګڼي د خپلو دي غرضـونو دپاره په ټورو هيـوادونو باندي خـپـل سياسي نظامي او اقتصادي نفوذ او د ملل متـحـد اداره هم استعمالوي.

په افـغانستان کي له يوي خـوا د جګړي عـوامل تغـذيه کـوي، بل خـوا اقـتـصـادي محاصره سـخـتـوي او په سياسي اقتـصـادي لحـاظه د اسلامي تحريک دپاره امکانات او شرايط تنګوي.

په وروسـتـو وختـونو کي د امريکا د جمهور رئيس کلنټن ماندينې چي ځانته د ښځـو د حقـوقو مدافع وايي د افغاني ښځو د حقوقو ددفاع مسئله په ډير زور او شـور کي راپورته کړيده . البته دا محترمه ميرمنه هيلري کلنټن ضرور د امريکا او امريکاييانو موقف ته دي مسئلي ته ګوري.

پاتي لري

ریاست صحت عامه ولایت جوزجان با یك ...

آن در سال جاري فعال میگردد.

در ریاست صحت عامه جوزجان به شمول کلینیك حمایه طفل و مادر و شفاخانه افغان ترك داراي ٤٣ داکتر و ٢٨ نفر پرسونل متوسط طبي و اداري و ٢٦ نفر پرسونل خدماتي فعالیت مي نمایند. و در مراکز فعالیت ریاست صحت عامه به شمول کلینیك سره میاشت، کلنیك تفحص نفت گاز و کلینیك تصدي افغان گاز به تعداد ١٤ نفر داکتر طب و ١٨ نفر پرسونل متوسط طبي ١١ نفر پرسونل خدماتي فعالیت مي نمایند.

مریضان که از ابتداي سال ١٣٧٧ الي اخیر سال متذکره به ریاست صحت عامه مراجعه و تداوي گردیده به تعداد ٤٢١٤٤ نفر به کلینیك هاي مختلفه و سرویس ها و به تعداد ٥٢٢٥٦ اطفال کمتر از ٥ ساله و خانم ها واکسین مختلف نوع تطبیق گردیده عملیات شده گان ١٥٨ نفر بستر شده گان ٤٨٣ نفر و ١٠١٢ نفر مریض معاینات لابراتواري اجراء گردیده است.

و به ابتکار ریاست صحت عامه تاریخ ١٤١٩/١١/٢٤ کمپاین وسیع واکسیناسیون در صحت عامه ولسوالي آقچه براه انداخته شده در ٦ مرکز به تعداد ٣٦٠٠ د واکسین پولیو ٨٠٠ دوز واکسین دي پي تي ٤٠٠ دوز واکسین سرخکان ٦٠٠ دوز واکسین بي سي جي و ٧٠٠ دوز واکسین تي تي تطبیق گردیده در کلینیك حمایه طفل مادر به تعداد ١٢٧٠٩ نفر معاینه و تداوي گردیده و در جریان سال ١٤١٩ دو مراتبه ادویه هاي تاریخ گذشته توسط هیأت موظف ریاست صحت عامه جمع آوري و تحت نظر هیأت مقام ولایت هدر گردیده و همچنان یك مراتبه نوشابه هاي غیر الکولي غیر صحي جمع آوري و تحت نظر هیأت هدر گردیده و در دواخانه هاي شهر وقتاً فوقتاً توسط هیأت کنترول جدي بعمل مي آید و کمپاین وسیع که به ابتکار مقام وزارت صحت عامه و دفتر یونسف سازمان صحي جهان از تاریخ ٢٣ الي ٢٥ محرم الحرام مطابق ٩ الي ١١ مي ١٩٩٩ صورت گرفت که به اساس احصائیه دست داشته و پلان مطروحه که تعداد ٩٠٨٠٠ نفر اطفال کمتر از سن ٥ ساله شامل پلان بوده که از جمله ٩٠٦٧٣ تن اطفال به شکل واقعي آن تحت پوشش واکسین پولیو در آمد از آن جمله ٣٣١٠٥ نفر در مرکز ولایت جوزجان و ولسوالي خواجه دوکوه متباقي ٥٧٥٦٨ نفر در ولسوالي هاي هفت گانه ولایت جوزجان واکسین پولیو گردیدند.

مسلمانانو په هند کي د یوه نوي سیاسي تنظیم د جوړولو اعلان وکړ

کي پي آي : مسلمانانو په هندوستان کي د خپل هویت د بیا احیا او د خپلو حقوقو د تر لاسه کولو په خاطر فیصله کړېده چي د ځان لپاره به جلا سیاسي تنظیم جوړوي تیره ورځ په نوي ډېلي کي د هندوستان د اقلیتونو او انتخاباتو په موضوع په یوه جوړ شوي سیمینار کي ډېرو مسلمانو مشرانو ګډون کړي ؤ جلسي ته د خبرو په وخت د جنتادل تنظیم مرستیال عبدالله خان عازمي ویلي دي چي مسلمانان د هندوستان د ټول شمیر لسمه برخه تشکیلوي مګر هغوي ته خپل حقوق نه دي ورکړل شوي هغه پیشنهاد کړي چي د اوسنیو محرومیتونو د ختمولو او د هندوستان په سیاست کي د ګډون په خاطر باید هغوي ځانته جلا سیاسي تنظیم جوړ کړي . د عبدالله خان عازمي دغه وړاندیز د نورو مسلمانو مشرانو ډېر خوښ شوي او ټولو منلي ده چي باید یو سیاسي تنظیم جوړ کړي .

سونیا ګانده‌ي خپله استعفا بیرته واخیسته

د هند د حکومت د مخالفي جبهي مشري سونیا ګاندي د کانګرس د ګوند له مشري څخه خپله استعفا ددغه ګوند د غړو د فشار له امله بیرته اخیستي ده . په ډېلي کي د هند د کانګرس ګوند یو ویندوي وویل میرمن ګاندي موافقه وکړه چي نن په نوي ډېلي کي د کانګرس د ګوند په یوه عاجله غونډه کي ګډون وکړي . میرمن ګاندي تیره اوونی هغه وخت خپله استعفا وړاندي کړه چي د کانګرس د ګوند دریو تنو لوړ رتبه مشرانو په دي خاطر چي په هند کي نده زیږېدلي تر پوښتني لاندي راوسته . د کانګرس د ګوند نورو مشرانو د میرمن ګاندي په مشري ټینګار وکړ او دغه دري تنه یي له ګوند نه وایستل. دغو مشرانو ګواښ کړېدي چي د کانګرس د ګوند تر څنګ به بل ګوند جوړ کړي او د کانګرس له ګوند څخه به مستقله توګه په انتخاباتو کي مبارزه وکړي . سونیا ګاندي د هند په راتلونکو انتخاباتو کي چي څلور میاشتي وروسته کیږي د دوو ستونزو سره مخامخ ده لمړي د کانګرس د ګوند د انشعاب او د هند د اوسني صدراعظم اتل بیهاري واجپاي په مشري د بهارتاجاناتا د سیال ګوند پر ضد مبارزه .

پاکستان امضأ پیمان منع سلاح اتومي را به شرایط جدیدي مربوط خواند

پاکستان اعلام نمود تا زمانیکه ایالات متحده امریکا شرایط اسلام آباد را قبول نه نماید کشورش پیمان منع سلاح هاي اتومي را امضأ نخواهد کرد . وزیر امور خارجه پاکستان به شرایط کشورش اشاره یي نه نموده ولي قبل بر این پاکستان امضأ قرار داد پیمان منع سلاح هاي اتومي را به امضأ این پیمان از سوي هند مشروط کرده بود.

کشمیري ها در انتخابات آینده هند اشتراك نخواهند کرد

میر واعظ عمر فاروق یکي از رهبران کشمیر دیروز گفت کشمیریها تحت هیچ جبر و فشار در انتخابات آینده هند که هدف از آن انحراف از حل مسأله کشمیر میباشد اشتراك نخواهند کرد وي گفت هند باید به واقعیت این امر که مسأله کشمیر با مراجعه با آراي مردم حل و فصل گردد تن در دهد .

مردم عادي امریکا با دو صد هزار میل اسلحه مسلح هستند

شبکه تلویزیون بي بي سي در گزارشي از واشنګتن اعلام کرد حدود دو صد هزار قبضه سلاح گرم در دست مردم امریکاست . بنا برین گزارش روز گذشته همزمان با برپایي نشست سالانه در اتحادیه ملي صاحبان سلاح امریکا در کلورادوست مخالفان آزادي سلاح در امریکا طي مظاهره در حالیکه فریاد میزدند اسلحه ماشین کشتار اطفال امریکایي است خواستار ایجاد محدودیت در استفاده از سلاح در ایالات متحده امریکا شدند. اتحادیه ملي صاحبان سلاح در امریکا یکي از بزرگترین گروه هاي فشار در امریکا بشمار میرود. . بي بي سي وجود سلاح در میان مردم امریکا را جزواز فرهنگ مردم آنکشور دانست و افزود این سلاح ها عمدتاً در امور ورزش تفریح و شکار به کار میروند.

په هند کي تر څلور لکو زیاتو ماشومانو څخه جنسي ګټه اخیستل کیږي

په هند کي د ماشومانو حقونه د نړي د نورو سیمو په پرتله زیات تر پښو لاندي کیږي . په هند کي د ماشومانو د حقونو یوي مدافعي ډلي د یوه رپوټ په خپرولو سره اعلام وکړ په هند کي څه د پاسه څلور سوه زره ماشومان له جنسي سو استفادي لاندي نیول کیږي او له څلور سوو نه تر پنځه سوه زره نور ماشومان هم د شپي لخوا په سرکونو کي ژوند تیروي.

دیوه رپوټ له مخي د هند په سلو کي دري پنځوس ماشومان چي د شپږو نه تر څوارلسو کلونو پوري عمر لري له زده کړي نه محروم دي.

د زړه د رګونو د بندیدلو خطر به تر ډیمایي راکښته شي

د زړه متخصصان له یوه نوي روش نه په استفادي سره کولاي شي د زړه د رګونو د بیا بندیدلو خطر تر نیمایي اندازي پوري کم کړي . دزړه د متخصصانو په یوه دري ورځني کنګره کي د یوه ګډونکي داکتر په وینا چي تیره ورځ په پاریس کي پایته ورسیده د شریانونو مینځته د وړانګو لیږدول د سلولو او حجري له تکثیر نه چي د قلبي عروقو د تنګیدو او بندیدو سبب کیږي مخنیوي کوي. هر کال پنځه اویا زره تنه ناروغان د زړه د عروقو د تنګیدو او یا بندیدو د علاج او شریانونو ته د لازمي وینې د جریان موندلو په خاطر تر جراحي عمل لاندي نیول کیږي. خو د دغو کسانو یو شمیرني بیا عروق د تنګیدو له شکل سره مخامخ کیږي . د داکترانو په وینا د شریانونو مینځ ته د وړانګو د لیږدولو له روش نه استفاده دغه لوړتیا لري چي د ناروغ له بیا بستري کیدو نه مخنیوي کوي او دا کار په یوره ډاډ سره تر سره کیږي .

هر هیواد چي په ...

قرآن عظیم الشان او د اسلام د ستر پیامبر حضرت محمد«ص» په ارشاداتو ټینګ عمل کوي او د عالیقدر امیر المؤمنین په رهنمایي بي افغانستان ته سوله او امنیت راوستي او د محمدي غرا شریعت د تطبیق کولو د پاره یي ملاتړلي ده اما په تأسف باید ووایم مخیني مغرض هیوادونه چه نه غواړي په دي اسلامي خاوره کي سوله امنیت او شریعت برقراره شي زموږ د مخالفینو لپاره نظامي تجهیزات او امکانات برابره وي دغه هیوادونه غواړي چي د تل لپاره د جګړي اور، په دي وطن کي جاري وساتي د دوي دغه بي ځایه هلي ځلي به انشاء الله د افغانستان مومن ملت او د اسلامي امارت د اتل اردو په سربښندنه ناکام او نابود کیږي . زموږ مجاهد ملت به په اتحاد سره د متجاوزینو په مقابل کي تر ورروستي سلګي پوري مقابله کوي لکه څرنګه چي د افغانستان د مومن ملت په سربښندنه او جهاد انګلیس دلته ماتي خوړلي او د روسانو غاښونه دلته مات شوي نو هر مملکت چي دلته د لاسوهني خیال کوي باید له انګلیسانو او روسانو څخه پوښتنه وکړي او بیا د برغل ملا وتړي هغوي باید دا شوم غرایض له خپل سر څخه وباسي او افغانان پریدي چي خپل وطن پخپله جوړ کړي .

در کار پروژه تحکیم ...

سواحل دریاي کابل در منطقه قلعه زمان خان طي سال گذشته به پایان رسیده و خطر آب خیزي در منطقه مذکور مرفوع گردیده است همچنان شاروالي کابل ساختمان سیصد متر سرك را در ساحه خیرخانه مینه به انجام رسانیده که در جریان این پروگرام مبلغ ٤٤,٦ ملیون افغاني بمصرف رسیده است البته قابل یاد آوریست که ترمیم تعمیر شاروالي کابل نیز طي سال گذشته آغاز گردیده و تا اکنون با مصرف مبلغ ٦٠,٢ ملیون افغاني کار ترمیم آن جریان دارد.

طي سال گذشته چهل ...

گردیده اند . باید تذکر داد که در سال ١٤٢٠ به تعداد ٣١٨ تن از طریق امتحان کانکور به این انستیتوت معرفي شده اند . انستیتوت پیداګوژي کابل محصلان رابطور لیله و نهاري پذیرفته که همین اکنون یکتعداد محصلان بطور لیلیه از ولایات مختلف کشور مصروف فراگیري تحصیل علم و دانش بوده که اعاشه آن از طرف وزارت تحصیلات عالي پرداخته میشود.

سفر هیأت دولتي ...

باز دارند مثمر واقع نخواهد شد . در پایان سفر هیأت مذکور امید آن میرود که کشور هاي مذکور با امارت اسلامي افغانستان روابط خویش را توسعه بخشیده و معاهدات مختلفي عقد نمایند که البته تحکیم روابط و عقد معاهدات کشور هاي خارجي با امارت اسلامي افغانستان حیثیت رسمي و قانوني امارت اسلامي افغانستان را تائید نموده و از این به بعد ان شاء الله جهانیان آزاد به تبلیغات دروغین مخالفین امارت اسلامي و حامیان خارجي شان گوش فرا نخواهند داد .

د کابل ولایت د کرنې ...

موږکانو او د مضره یوټو په مقابل کي مجادله شویده . ده زیاته کړه د کابل ولایت د کرنې اداري د پي ار بي اسرا او د اي.سي.ار سي له خیریه موسسو سره په تفاهم کي د چاردهي د بختیار د کرنې له کوپراتیف سره د کرني د څه د پاسه دوو ټنو اصلاح شویو غنمو د سروبي ولسوالي له کوپراتیف سره د درویشت ټنو جوارو یو ټن مي شپږ و ټنو کیمیاوي سري او د پغمان ولسوالي له کروند ګرو سره د ځانګو دغو څولو پنځوسو بیاتیو پنځو سو چاقوګانو د پټاټو د دوه سوه منو تخم او د پیازو د لس کیلو ګرامو تخمونو مرسته کړېده .دغه راز د شاتو د مچیو له درویشتو تنو روزونکو د چرګانو د روزني د اتحادیې له ٦٤ تنو غړیو او له پنځوسو انفرادي اشخاصو سره چي د کرني په بیلا بیلو ځانګو کي همکاري کوي ددغي اداري لخوا مرسته او لارښوونه شویده . ده په نوي کال کي ددغي اداري د پلان په باره کي وویل د نویو کوپراتیفونو په جوړولو سربیره په پام کي دي د یو سلو یو دیرش زره دوه سوه څلور هکتاره ځمکي په ساحه کي ډول ډول غنم غلي داني ونې او بوټي ترویج او څلور سوه زره څاروي تداوي او نهه ملیونه یوویشت زره ونې او د کرني دوه ویشت زره پنځه سوه هکتاره ځمکي په ساحه کي درمل وشیندل شي او د ١٨٠٠ هکتاره ځمکي په ساحه کي به د زیانمنو بوټو او مورګانو پر خلاف مبارزه وشي.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

کار اعمار یك باب ...

هشت جریب زمین میباشد دو تن از شخصیت هاي متنفذ قریه چغتاي شهر شبرغان ولایت جوزجان بنا بر احساس اسلامي و وطندوستي شان غرض تربیه سالم اولاد کشور في سبیل الله در اختیار ریاست معارف جوز جان قرار دادند که کار اعمار مدرسه مذکور که به کمك مالي و همکاریهاي همه جانبه مردم قریه چغتاي تکمیل گردیده است تا کنون سه صدو هفتاد تن طالب العلم در آن مصروف آموزش علوم بوده که امور تدریس آنان توسط چهار تن از استادان مجرب به پیش برده میشود.

نماینده گان مؤسسات ...

صحي جهان ، دفتر انکشافي ملل متحد و اداره یونیسف داشت روي نحوه توسعه و گسترش مساعدتهاي موسسات خیریه به نیازمندان کشور بحث و تبادل نظر صورت گرفته و فیصله بعمل آمد تا مساعدتهاي متذکره به نیازمندان واقعي توزیع گردد.

همچنان درین نشست در حالیکه محترم الحاج محمد موسي هوتك معین اول وزارت پلان نیز حاضر بود نماینده گان موسسات مذکور با ابراز وعده همکاریهاي بیشتر از پروگرام هاي وزارت پلان تقدیر نمودند.

منسوبین امنیتي ...

حسبن مسعود ولسوال دولت شاه بالترتیب پیرامون مسایل امنیتي درد فع و طرد دسایس و توطئه هاي مخالفین امارت اسلامي به والي اطمینان کامل دادند.

در اخیر محترم ملا محمد اسحق آخندزاده والي ولایت لغمان مسایل امنیتي را مورد بررسي قرار داده به مسؤولین هدایات مشخص ارائه نمود.

د کابل ښار په پنځمه ...

د یادوني وړ ده چي دغه پروژه د افشارو او مرکزي سیلو د سیمو د ښندارو خلکو د پیشنهاد له امله او د اداري پراونو له تیرولو او دافغاني سري میاشتي د ټولني د اي . سي.ار .سي د کمیټي له تصویب او د افغاني سري میاشتي د ټولني د انجنیرانو تر نظر لاندي په فعالیت پیل کړېدي.

اطلاعیه کمیسیون ...

زنبق طلایي تسلیم نمایند.

براي برنده گان ممتاز ، اول، دوم و سوم جوایز مناسب در نظر گرفته شده و به متباقي نقاشان اشتراك کننده گان کانکور مصارف شان پرداخته میشود ضمناً علاقمندان میتوانند جهت اخذ معلومات مزید به آدرس آن کمیسیون مراجعه نمایند.

کلینیك صحي ولسوالي ...

از اهالي آنجا و برخي از مسؤولین شرکت ورزیده بودند.

د حبیبیې د عالي مدرسې ...

ددغي لوبي د ننداري په مراسمو کي د سپورت ګن شمیر مینه والو برخه اخیستي وه .

تبصره

اسلامي امارت د واقعیتونو په هنداره کي

د افغانستان اسلامي امارت چي زموږ د مجاهد ملت د سپیڅلیو ارمانونو بواځني ممثل دي د ټولو دښمنانو د خائنانه توقعاتو په خلاف د واقعیتونو له مخي په ملي او بین المللي کچه له ښه ارجحیت او ځانګړي اهمیت نه برخمن دي.

چي پدي ورستیو کي د سویتزرلیند ، هالیند ،فنلیند المان او همدارنګه د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د تنظیمرونکو د لوړ رتبه استازیو راتګ کابل ته زموږ د پورتني ادعا ښکاره ثبوت دي.

باید وویل شي چي د نوموړو هیوادونو لوړ رتبه استازیو زموږ په هیواد کي عیني حقایق له نژدي کتلي هغه یي تسلیم کړي او د خپلو راتلونکو پروګرامونو د اجراء لپاره یې د اسلامي امارت له اړوند چارواکو سره ګټوري خبري اتري کړي .

د اسلامي امارت و روستني نظامي او دیپلوماتیکي بریاوي نړیوالو ته د اور په ګوته کوي چه هغه ددي صلاحیت لري چي په نړیواله سطحه د افغانستان د مسلمان ملت دیوه قانوني او شرعي نماینده په توګه مطرح شي ځکه چي د تیرو شلو کالو په تیرویدو کي یواځني قوت همدا اسلامي امارت دي چي د هیواد په اکثریت باندي یې بشپړ کنترول درلودلي، د افغانستان د مسلمان ملت د خواستي مطابق یي شرعي نظام پلي کړي، د هیواد د تجزیي او ټوټه ټوټه کیدو خطر یي له منګه وړي، د وخت په حساسو شرایطو او نه امکاناتو کي یي ډیر انکشافي پروګرامونه تر سره کړي د اجنبیانو د یرغلونو او یي ځایه لاس وهنو مخ نیوي یي کړي او ...

دا چي نن یو شمیر محدود ماجراجویان د پردیو په دستور د اسلامي امارت په خلاف خپلو نا مشروع هلو ځلو ته ادامه ورکوي د هغوي هدف د پردیو راضي کول او خپل شخصي مصالح تر لاسه کول دي او د همدي مخالفینو موجودیت نه تنها په افغانستان کي شته دي بلکي د نړي په زیاتو هیوادوکي دا شاني اجیر شخصیتونه وجود لري چي هغه د خپل هیواد د خپل ملت او د خپل آئین په خلاف د اجانبو د ارضا کولو لپاره کار کوي د افغانستان د اسلامي امارت مخالفین هم د هغو پلورل شویو اجیرانو له جملي څخه دي چي د خپلو بهرنیو بادارانو د شومو اغراضو د حصول لپاره د خپل مسلمان ولس د لا تباهي او بربادي لپاره کار کوي د هغوي بهرني بادران په هیڅ قیمت دي ته حاضر ندي چي همدغه د لاس آلي یي په افغانستان کي له مینځه ولاړي شي چي ددي ښکاره ثبوت د ایراني چارواکو وروستني رسوا غلچکي یرغلونه دي چي زموږ د هیواد په لویدیځو پولو یي تر سره کړل .

ایراني چارواکو غوښتل چي په خپلو همدغو ناروا او بي شرمانه یرغلونه سره د هغو پر له پسي ماتو او ناکامیو تلافي وکړي کومي چي د هیواد په مرکزي او شمالي سیمو کي د هغوي د اجیرانو په برخه شوي او همدارنګه پدي ناروا تیریو سره خپله نوکرانو ته د اورښي چي ستاسي په لاس ستاسي د وطن او ملت د بخي بربادي لپاره مو مونږ تر اخیري ساه پوري درسره ملګري یو .

بلي خواته هغوي نور شاتړونکي غواړي چي ماتي خوړلیو مخالفینو ته یو څه مورال ورویښي او د همدي غرض لپاره په ډېر آب و تاب سره کله د پراخ بنسټه حکومت او کله هم په بهر کي د بهرنیانو په دستور دفرمایشي لوي جرګي ونډوري غږوي خو مونږ د لوي خداي په نصرت او د خپل مسلمان مجاهد ملت په بشپړي همکاري سره پدي مطمئن یو چي د ټولو بهرنیو او داخلي دښمنانو د ټولو توقعاتو په خلاف به ټول هیواد کي قرائي سپیڅلي نظام نافذ کیږي او د هغوي ټولي شومي او ناروا هلي ځلي به له حتمي ناکامي سره مخامخ کیږي ځکه تاریخي تجربو دا ثابته کړي چي هر هغه ډله او طرف چي له بهر نه یي حمایه کیږي او یا د پردیو په دستور منځ ته راغلي وي نتیجه یي له ناکامي نه سوا بل څه نه وي . اسلامي امارت چي په اوسنیو شرایطو کي یي د یو منل شوي حقیقت په توګه خپل شته والي ثابت کړي ددي توان لري چي د هیواد دلوړو اسلامي او ملي منافعو د تحقق په منظور د ټولو توطیه ګرانو توطیي شنډي او زموږ مجاهد دردیدلي ملت د دیني او دنیوي نیکمرغیو او ترقیو په لوري رهبري کړي .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdul Rahim Saqeb,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press